# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد | بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم | از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com | afgazad@gmail.com
Political | سیاسی

اینگرید یونکر
ژباړه: فرهاد ویاړ
۱۷ جنوری ۲۰۱۴



## دا ماشوم مړ شوی نه دی

### هغه ماشوم چې په «نیانګا» کې سرتیرو ووژو

دا ماشوم مړ شوی نه دی، نه مړ شوی نه دی!

دا ماشوم د مور په وړاندې، خپل موټی جګوي

هغه چې فریاد وهي

چې افریقا د خپل محاصره شوي زړه په هر ګوټ کې

د آزادی او د کبلو د وړمي فریاد وهي.

دا ماشوم د پلار په وړاندې، خپل موټی جګوي

د هغو نسلونو په حماسو کې

چې فریاد وهي

چې افریقا په خپلو ویاړمنو وسلوالو واټونو کې

د عدالت او د وینو د وړمي فریاد وهي.

دا ماشوم مړ شوی نه دی

نه په «لانګا» کې نه هم په «نیانګا» کې

نه په «اورلاندو» کې نه هم په «شارپویل» کې

نه هم د «فیلیپی» د پولیسو په تهانه کې

چیرې چې مردکی د هغه پر سر ولګیده.

دا ماشوم د هغو سرتیرو شاته چې په ټوپک او کوتکو سمبال دي،

د سیوري په شان روان دی.

دا ماشوم په ټولو غونډو او قانون جوړونو کی حاضر دی

دا ماشوم د کورونو له پنجرو ورو ورو گوري

او د میندو زړونو ته ورنوځي.

دا ماشوم چې یوازې یې غوښتل د «نیانگا» په لمر کې لوبې وکړي، اوس هر چیرې حاضر دی

دا ماشوم چې اوس لوی شوی، ټولې افریقا ته سفر کوي

دا ماشوم چې اوس پیاوړی شوی، بې له ویزې ټولې نړۍ ته سفر کوي.